هفته‌نامه
آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
#۳۷
شنبه، د رجب المرجب ۲۳مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# سرلیکنه



صادرات د هېوادونو اقتصادي څرخ په حرکت راولي او څومره چې د یوه هېواد اقتصاد وده وکړي، هغومره یې په نړیواله کچه د سیالۍ ځواک زیاتیږي او د نړیوالي سوداګرۍ زیاته برخه په ځانته ځانګړې کړي. د نړۍ په ناخالص تولید کې د بهرنۍ سوداګرۍ ونډه ۱/۳ برخه ده. له دې څخه جوتیږي چې تر کومې کچې د نړۍ اقتصاد د صادراتو په پراختیا او پرمختګ پورې تړلی دی. صادرات د تقاضا یوه برخه ده، ځکه خو د صادراتو په زیاتوالي سره په ټوله کې تقاضا هم زیاتیږي او په پایله کې یې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواریږي. د دې تر څنګ د صادراتو ډېروالی د یوه هېواد د سوداګرۍ بیلانس برابر ساتي.

مالیې وزارت د روان کال په لومړیو لسو میاشتو کې یو شمېر هېوادونو ته د څه باندې ۱۲۲ میلیارده افغانیو په ارزښت د صادراتو خبر ورکړی دی. دغه وزارت ویلي چې د هېواد په ګمرکونو کې سوداګرو ته د رامنځته شویو آسانتیاوو او له فساد سره د جدي مبارزې له امله، د روان ۱۴۰۲ کال په لومړیو لسو میاشتو کې یو شمېر هېوادونو ته د څه باندې ۱۲۲ میلیارده افغانیو په ارزښت صادرات شوي دي. په ترسره شویو صادراتو کې د څه باندې ۴۳ میلیارده افغانیو په ارزښت مېوې، د ۱۶ میلیارده افغانیو په ارزښت پنبه او د ۱۷ میلیارده افغانیو په ارزښت سبزیجات شامل دي، چې ډېری برخه یې پاکستان، هندوستان او متحده عربي اماراتو ته صادر شوي دي.

اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي. هڅه یې داده چې د سوداګرۍ په بیلانس کې صادرات له وارداتو زیات کړي، ځکه ډېر صادرات د ډېرو بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو لامل ګرځي او د بهرنیو اسعارو زېرمې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پیر ځواک لا غښتلی کوي. په همدې موخه یې لومړی ګام دا و چې په کور دننه د خصوصي سکټور تر څنګ دولتي تولیدي شرکتونه بېرته فعال کړي. اسلامي امارت پر دې توانیدلی چې تر دې مهاله د هېواد په کچه ۱۳ هغه تولیدي شرکتونه چې چارې یې په ټپه ولاړې وې، بېرته فعال کړي. اوس مهال یې د دولتي شرکتونو د ښه مدیریت او د دې شرکتونو د اغېزناک فعالیت په موخه د عالیقدر امیر المومنین شیخ صاحب حفظه الله د فرمان له مخې خپلواکه اداره رامنځته کړه. دغه راز د کرنیزو تولیداتو د کچې زیاتوالي په موخه یې د کرنې سکټور ته پوره پاملرنه کړې ده. په هېواد کې یې د اوبو ستر، متوسط او کوچنې بندونه جوړ او د کانالونو د کیندلو تر څنګ یې پخواني کانالونه هم پاک کړي دي. په کور دننه د خصوصي سکټور له لوري د تولیداتو د کچې د زیاتوالي له پاره یې هم ګامونه پورته کړي دي. په دې برخه کې یې د خصوصي سکټور له پاره اسانتیاوې رامنځته کړې او د تولیداتو د بازارموندنې له پاره یې په کور دننه او بهر کې نندارتونونه جوړ کړي. همدا لامل دی چې د هېواد په صادراتو کې زیاتوالی راغلی او په برکت به یې اقتصادي پرمختګ ته په بشپړ ډول لاره هواره شي.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه



۲ مه صفحه

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه



۳ مه صفحه

## اهمیت بازسازی و احداث شاهراه ها و سرک ها




۵ مه صفحه

# به ارزش حدود دو میلیارد افغانی قرارداد سه پروژه میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و سکتور خصوصی به امضاء رسید



در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ یازدهم دلو سال روان به ارزش حدود دو میلیارد افغانی قرارداد سه پروژه میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و سکتور خصوصی به امضاء رسید.

در این مراسم که در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت برگزار گردیده بود، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، این پروژه ها را در احیای ترانسپورت معیاری و توسعه این سکتور مهم خواند و از شرکت های قراردادی خواست تا کار های خویش را با کیفیت و به وقت تعیین شده به پایان برسانند.

این پروژه ها اعمار پارکینگ و انتظارخانه در میدان هوایی کابل، تیرپارک بندر آقینه در ولایت فاریاب و ترمینل گذره در ولایت هرات می باشد که هزینه مجموعی آن در حدود ۲ میلیارد افغانی است. با اجرای این پروژه ها از یک سو خدمات حمل و نقل معیاری به هموطنان ارائه می شود و از سوی دیگر به هزاران نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار فراهم خواهند شد.





## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې په نوبتي غونډه کې چې د روان لمريز کال د سلواغې مياشتې په لسمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجندا سره سم د بهرنيو او کورنيو خصوصي شرکتونو له لوري د پانګونې وړانديز شوو يوشمېر طرحو په اړه بحث وشو. يادې غونډې ته د خصوصي شرکت له لوري د هېواد په ۱۲ بندرونو کې د الکترونيکي سکنرونو د نصب طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. تر هراړخيز بحث وروسته د پانګونې بين الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نيولو سره ياده طرحه تاييد او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه.

دغې ناستې ته د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت استازو د ننګرهار ولايت په مهمندره ولسوالۍ کې د خصوصي سکتور له لوري د تيرپارک جوړولو طرحې د ارزونې راپور هم وړاندې کړ، چې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې له لوري د راغلو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره ياده طرحه تاييد او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه.

همدارنګه د پاتې نورو طرحو په اړه تر هراړخيز بحث وروسته ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د

پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره د یادو طرحو د مالي، اقتصادي او تخنیکي اړخونو د ارزونې په موخه ناستې ترسره او راپورونه یې دې پر ټاکل شوو نېټو دې کمېټې ته وړاندې کړي.





# د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې په نوبتي غونډه کې چې د روان لمریز کال د سلواغې میاشتې په نهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم د یوشمیر اقتصادي موضوعاتو په اړه بحث وشو. یادې غونډې ته د نباتي خوراکي غوړیو د ځان بسیاینې طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. تر هراړخیز بحث وروسته یاده طرحه په پرنسیپ کې تایید او د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت استازو ته دنده وسپارل شوه، څو دغه طرحه د اوبو او انرژۍ او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو سره شریکه کړي او د هغوی د نظرونو په پام کې نیولو سره یې د غني او د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته یې دې وړاندې کړي.

همدارنګه نویو متقاضیانو ته د نوري فایبر د ملي جوازونو د صدور ورکړه بله هغه موضوع وه، چې د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري وربادې بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د نوري فایبر نویو متقاضیانو ته دې نوي جوازونه د نړیوالي داوطلبۍ له لارې ورکړل شي او له وړ شرکتونو سره د قراردادونو منظورۍ د اقتصادي کمېسیون ته راجع شي. دغه پرېکړه د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري د چاپېریال ساتنې ملي اداري د نویو عایداتي منابعو پر طرحه هم بحث وشو. تر هراړخیز بحث وروسته د چاپېریال ساتنې ملي ادارې استازو ته دنده وسپارل شوه، څو دغه طرحه له اړوندو وزارتونو او ادارو سره شریکه کړي، د هغوی نظرونه دې پرې واخیستل شي او وروسته دې د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته وړاندې شي.





# د افغانستان اسلامي امارت په راتـــګ سره ۱۳په تپه درېدلو دولتــــي شرکتونو بېرته پر فعالیت پیل کړی دی




واک ته د اسلامي امارت له رسـېدو را وروسته ډېرې هغه دولتي شرکتونه بېرته فعال شـوي چـې له دې مخکې یې فعالیت په تپه درېدلی و. د افغانســتان اسلامي امارت یاد شرکتونه په اساسي ډول رغولي او ټولې هغه ستونزې یې له منځه وړې دي، چې د دوی د فعالیت پر وړاندې خنډ وو. اســلامي امارت د تېرو دوه کلونو پر مهال ۱۳ هغه شرکتونه بېرته فعـال کړي چې چارې یې په تپـه ولاړې وې. دغه شرکتونه د هلمند بُســت د پنبې او نباتي غوړیو، د ارزاقو، د افغانســتان د نفت او ګازو، د بلخ پنبــې او نباتي غوړیو، د کندوز سپین زر، ملي بس، د افغان کارت، مرکزي سېلو، د بلخ ســېلو، د لاسي صنایعو پراختیا، د پلخمري نساجي، د کندهار پشمي نســاجي او افغان طیور هغه دولتي شرکتونه دي چې د اسلامي امارت له لوري بېرته فعال او په تولید یې

پیل کړی دی.

اوس‌مهال دغه شرکتونه غوړي، پنبه، توکر، صابون، کاغذي دستمالونه، نظامي یونیفورم، لاسي صنایع او بېلابېل خوراکي توکي تولیدوي او پر دې سربېره د ترانسپورټ او نورو برخو کې هېوادوال ته باکیفیته خدمات هم وړاندې کوي.

د ۱۴۰۲ لمریز کال له پیل تر دې مهاله د دولتي شرکتونو له لارې د دولت خزانې ته شاوخوا ۹ میلیارده افغانۍ عواید جمع شوي دي. د دغو دولتي شرکتونو په فعالېدو سره ۳۸ زره هېوادوال ته په مستقیم او ۱۰ زرو ته په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

د اماراتي شرکتونو د ښه مدیریت، ملي عوایدو لوړېدو، په بازار کې د انحصار او احتکار د مخنیوي او د یادو شرکتونو د ګټور او مؤثر فعالیت په موخه د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۲۱مې ګڼې فرمان پر بنسټ د اماراتي شرکتونو د تنظیم خپلواکه اداره رامنځته او پر کار یې پیل وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اماراتي شرکتونو د تقویې او انسجام په موخه د خپلواکې ادارې د رامنځته کېدو په اړه جوړې شوې غونډې ته د وینا پر مهال د یادې ادارې جوړېدل ګټور وبلل او ویې ویل چې په دې سره به د صنعت برخه لا پیاوړې شي.


د فرمان شمېره: ۲۱
فرمان

# د اسلامي امارت په هڅو یو شمېر بهرنیو هوایي شرکتونو افغانستان ته الوتنې پیل کړې دي

د افغانستان اسلامي امارت د پرلپسې هلو ځلو په پایله کې یو شمېر بهرنیو نړیوالو هوایي شرکتونو د روان لمریز کال په لړ کې پر پلازمینه کابل سربېره یو شمېر ولایتونو ته خپلې الوتنې پیل کړې دي.

د افغانستان اسلامي امارت هوایي ترانسپورټ په خپلو لومړیتونو کې نیولی دی. د خوندي او معیاري هوایي ترانسپورټي خدمتونو وړاندې کول، د ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د هوایي ترانسپورټي اړیکو پیاوړتیا، د هوایي ترانسپورټي سکتور په برخه کې پانګونې ته زمینه برابرول، د هوایي ترانسپورټي زېربناوو پراختیا، د اداري جوړښت اصلاح کول او په دې سکتور کې بنسټیزو اصلاحاتو ته زمینه برابرول یې د کارونو په سر کې ځای لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، متحده عربي اماراتو، ترکیې او ایران ته د خپلو سفرونو پر مهال د دوه اړخیزو اقتصادي موضوعاتو ترڅنګ افغانستان ته د یادو هېوادونو د هوایي شرکتونو د الوتنو د بیا پیل په اړه د اړوند مسوولینو سره بحثونه درلودل چې له نېکه مرغه د همدې هڅو په لړ کې د فلای دوبی، ایر العربیه او یزد هوایي شرکتونو خپلې الوتنې افغانستان ته پیل کړې.

ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې به یو شمېر نور نړیوال هوایي شرکتونه هم افغانستان خپلې الوتنې پیل کړي. اوس‌مهال د افغانستان فضا د ملکي الوتنو لپاره په بشپړ ډول خوندي او مصؤنه ده، چې له همدې امله افغانستان د راتلونکو او د افغانستان له فضا څخه د تېرېدونکو الوتنو په شمېر کې ورځ تر بلې زیاتوالی راځي.

د یادونې وړ ده چې د یادو شرکتونو د الوتنو په پیل سره مسافرو ته د پام وړ سهولتونه برابر شوي، د ټکټونو په بیو کې کموالی راغلی او د هوایي شرکتونو ترمنځ د خدماتو وړاندې کولو لپاره د سالم رقابت ښه زمینه برابره شوې ده.







## در شهر کابل تا اکنون
# ۴۹۳۳۸ گدا
## جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۹۳۳۸ گدا تا ۱۲ دلو سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۹۰۴ زن، ۷۸۴۵ مرد و بقیه ۲۶۵۸۹ طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۷ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

# اهمیت بازسازی و احداث شاهراه ها و سرک ها

نویسنده: هدایت الله واحدی



## مقدمه

تردیدی نیست که سرک ها و راه های موصلاتی وسیله مهم ارتباط جامعه بشری است، که نه تنها در عرصه رفت و آمد عامه مردم، تجارت و ترانزیت اهمیت بسزای دارد بلکه از قرن ها به این سو وسیله‌ای شناخت و معرفی تمدن ها، فرهنگ ها و تهذیب های مختلف و انتقال آن بوده است. در قدیم الایام تا اندازه زیادی تحکیم روابط میان کشور ها و ادامه وابسته به گشایش راه های تجارتی و انکشاف این عرصه بود. بخش مذکور در آن وقت از جهتی دارای ارزش بود که راه بحری یا آبی وجود نداشت و یا هم کسی از آن استفاده نمی کرد. یا اینکه راه مذکور به مقایسه مسیر زمینی آن قدر مصؤن نبود، بناً راه های زمینی از اهمیتی زیادی برخوردار بود. همین علت بود که شماری از راه ها شهرت جهانی داشت و یا هم کشور های که در این مسیر قرار داشتند به قله های بلند شهرت می رسیدند، اکنون هم این مسیر ها عاری از اهمیت نبوده چنانچه سرک ها و شاهراه ها، شاهرگ های اقتصادی در هر کشور اند در افغانستان در کنار آنکه جاده ها می تواند عامل رشد اقتصادی باشد برای رشد اقتصادی محلی، اقتصاد روستانشینان هم خالی از مفدیت نیست. در نزدیکی و روابط حسنه اقوام و باشنده گان این کشور نیز اثر گذار می باشد. اعمار و بازسازی شاهراه ها، سرک ها و راه های مواصلاتی نقش جایگاه حیاتی در رشد اقتصادی کشور داشته که به اتکای آن ضمن سهولت ها در حصه رفت و آمد عامهٔ مردم سکتور اقتصادی کشور نیز توسعه یافته می تواند، با اهمیتی سرشاری که این بخش دارد خواستم تا پیرامون راه ها و شاهراه افغانستان، اهمیت آن و اتخاذ تصمیم امارت اسلامی در جهت اعمار سرک دوم شاهراه کابل جلال آباد مطالبی را به شکل فشرده به رشته تحریر درآورم.

## اهمیت سرک ها و شاهراه ها

بی تردید تاریخ اقتصادی جهان مبیَن آن است که راه های مواصلاتی (سرک ها و شاهراه ها)و وسایط ترانسپورتی یکی از اساسی ترین ابزار حیات اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و سیاسی کشور ها محسوب می گردد. محتاج و نیازمندی های بشر را در هر مقطع زمانی و مکانی ایفا می کند.طوریکه می دانیم راه های تجاری و ترانزیتی زمینه ای انتقال کالا و اشخاص را از یک محل به محل دیگر یا از کشور های مبداء به کشور های مقصد را ممکن می سازد. همانگونه که رگ های خون در بدن نقش حیاتی دارد، راه های ترانزیتی برای حیات اقتصادی کشور همان نقش را ایفا می کند. سکتور ترانسپورت و ترانزیت انسان ها و محصولات تجارتی، یکی از عوامل بسیار مهمی است که در هر عصر و در هر محدوده مکانی و زمانی در رشد و شکوفایی اقتصاد ملت ها و ایجاد رفاه اجتماعی مردم در جوامع مختلف، نقش عمده و تعیین کننده داشته است. در دنیای امروزی انواع سیستم های ترانسپورتی و ترانزیتی وجود دارد. سیستم های ترانسپورت زمینی، ریلی و هوایی از عمده ترین این سیستم ها هستند که فعلاً نقش عمده و اساسی در نقل و انتقالات انسان ها، محصولات و مواد مختلف را بر عهده دارند و انکشاف سیستم های ارتباطی و اطلاع رسانی و به وجود آمدن سیستم الکترونیکی در این عرصه که باعث تبادل اطلاعات در سطح بسیار بالا و در وقت و زمان کم شده است، بیش از پیش به توسعه بخش های مختلف حمل و نقل و ترانسپورت انجامیده است.در اقتصاد امروز نیز به بخش ترانسپورت توجه خاصی صورت می گیرد و همواره سعی بر آن است تا از مناسب ترین سیستم ترانسپورتی که از لحاظ اقتصادی به مصرف کم، از لحاظ زمانی در برگیرنده وقت کم و از لحاظ رفاه و آسایش دارای تجهیزات و امکانات مدرن برای راحتی هر چه بیشتر مسافرین و امنیت هر چه خوب مواد و لزوم انتقالی باشد، استفاده گردد. بناً اهمیت و نقش راه های مواصلاتی و سیستم های ترانسپورتی در افغانستان در شرایطی که افغانستان محاط به خشکه است و از سوی دیگر نیز موقیعت جغرافیایی افغانستان به نحوی است که پیوند دهنده کشور ها و مناطق مختلف آسیا می باشد، احیا و انکشاف سیستم های ترانسپورتی می تواند نقش مهمی را در رشد و توسعه اقتصاد و تجارت در کشور ما بازی کند.



## امارت اسلامی و توجه به بازسازی سرک و راه های موصلاتی

امارت اسلامی با گزینش سیاست اقتصاد محور در کنار سایر بخش های که می تواند، سبب تقویت اقتصاد کشور و رفاه عمومی گردد، در عرصه احیا و بازسازی سرک ها و شاهراه ها نیز اقدامات مقتضی داشته است. چنانچه کار بازسازی و احداث سرک شاهراه کابل - قندهار، سالنگ ها، سرک قندهار – روزگان، ده ها سرک شهری و روستایی در ولایات مختلف، پل، پلچک و دهلیز تجارتی و ترانزیتی واخان در کشور آغاز گردیده است و یکی پی دیگر به بهره برداری سپرده می شوند که خوشبختانه به سلسله اعمار و بازسازی شاهراه ها و سرک ها چندی پیش کار بازسازی تونل و گالری ١٦شاهراه سالنگ توسط محترم ملا عبدالغنی برادر آخند قبل از وقت تعیین شده رسماً افتتاح و به بهره برداری سپرده شد به همین شکل کار بازسازی و اعمار صدها پل و پلچک در گوشه و کنار کشور ادامه دارد. همچنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند طی سفر خویش به ولایت ننگرهار در نشستی که به تاریخ ٢٦ ام جدی در دفتر مقام ولایت مذکور تدویر گردیده بود ضمن سایر موضوعات مژده اعمار سرک دوم کابل – جلال آباد را برای بزرگان، متنفذین و مردم این ولایت داد که بعداً در جلسه مورخ سوم دلو کمیسیون اقتصادی، پروژه اعمار سرک دوم کابل – جلال آباد تایید شد و به وزارت فواید عامه هدایت داده شد تا این پروژه را از طریق داوطلبی آزاد به اعلان بسپارد و شرکت را با در نظر داشت داشتن تمامی معیارهای سرک سازی انتخاب نماید. این اقدام امارت اسلامی جهت بهبود وضعیت ترانزیت، تجارت و در مجموع اقتصاد کشور از اهمیت خاصی برخوردار است. امارت اسلامی با تعهد و حسن نیتی که در قبال مردم و کشور خویش دارد با وجود امکانات محدود می خواهد این جاده را اعمار نماید. ان‌شاءالله با این سعی و تلاش‌ها می توان به آینده درخشان که در آن خود کفایی اقتصادی میسر است امیدوار بود.



## نتیجه گیری

رشد و توسعه جامعه بشری ارتباط مستقیم با جاده ها و راه مواصلاتی داشته است. ارزش راه ها تا به حدی است که سطح فرهنگی هر منطقه و میزان توسعهٔ را می توان با توجه به دوری و نزدیکی آن به جاده یا سرک ها تعیین کرد. شاهراه ها تنها مسیر رفت و آمد مردم عادی، قوای نظامی و یا بستری که فعالیت های تجارتی بر روی آن ها انجام می شود، نبوده بلکه به عنوان مهم ترین وسیلهٔ ارتباط جمعی، زمینه انتقال دستاورد های فکری و فرهنگی انسان ها به یکدیگر هم می باشد. با توجه به این مبرمیت که سرک ها، و در مجموع شاهراه و راه های موصلاتی در جامعه دارد، امارت اسلامی در کنار سایر بخش های اقتصادی، خدماتی و عام المنفعه بازسازی سرک ها، شاهراه ها و راه های موصلاتی را در اولویت برنامه های کاری خود قرار داده است و به طور خستگی ناپذیر به سوی این هدف بزرگ در حرکت است، که اینک به سلسله اعمار و بازسازی سرک ها، شاهراه و راه های بدیل ،طرح اعمار سرک دوم کابل جلال آباد را در جلسه مورخ سوم دلو کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند تایید نمود که یک گام بزرگ جهت رونق اقتصادی کشور از طریق انتقالات اموال تجارتی گسترش تجارت و ترانزیت و عرضه خدمات بهتر می باشد.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٧٣,٠٠؋ | ٧٣,٢٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٥١؋ | ٢٥١؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ١,٣٢؋ | ١,٣٢؋ |
| ١ | اروپایي یورو | ٧٨,٨٩؋ | ٧٩,١١؋ |
| ١ | روسی روبل | ٠,٨٠؋ | ٠,٨٠؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٨٨٠؋ | ٨٨٢؋ |
| ١ | انگلیسي پونډ | ٩٢,٢٢؋ | ٩٢,٤٧؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٩,٤٧؋ | ١٩,٥٢؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٩,٨٨؋ | ١٩,٩٣؋ |
| ١ | چیني ین | ١٠,٢٥؋ | ١٠,٢٨؋ |